# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



درویش وردک

۱۵ نومبر ۲۰۱۶

## پنځوسم مجلس(د دنیا له غمه خلاصون)

دجمعې په ورځ سهارد ۵۴۵هجری قمری کال دشعبان دمیاشتې په اتلسمه شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کې داسې وفرمایل: دځان په اصلاح لاس پورې کړی، له قیل اوقاله اودنفس دهواله پیروی څخه ډډه وکړی. ترکومه چې کولای شی ددنیا له غمه ځان فارغ کړی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (تَفَرَّغُوا مِنْ هُمُومِ الدُّنْيا مَااَسْتَطَعْتُمْ)-« ترڅوکولای شی ددنیا له غمه ځان فارغ کړه».

ای نادانانو، که مودنیاپه ریښتیا پیژندلای، دهغې په طلب کې به نه وای. هرکله که دنیا درته مخه کړی، نوپه رنځ اوکړاوبه مووباړوی، اوهرکله که له تا لیری شوه، دحسرت سره به مخ یې، اوکه دخدای پیژندای، دده په وسیله به دی هرڅه پیژندلی وای.مګرته دخدای اورسول اوداولیاءالله په نسبت جاهل یې.

وای پرتا! له هغه څه نه چې دنیا دنورو په سرراوړی ، ولې عبرت نه اخلې؟ له خدایه وغواړه چې تایې له شره خلاص کړی. ددنیا دوستی جامې له تنه وباسه اوتری وتښته. دنفس دهواجامې لیری کړه، اودحق ددرګاه خواته بیړه وکړه. پوه شه هرکله که دنفس له نیشه خلاص شوی، دټولورنځونو څخه خلاص شوی یې،اوپرته له خدایه له هرڅه فارغ شوی یې.له خدایه مهجوردنفس تابع اوپیرودی، ته نفس وشړه ترڅوخدای ته ورسیږی، ځان خدای ته تسلیم کړه ترڅو سلامت ته ورسیږی، دخدای په لاره کې زیاروباسه ترڅو هدایت درته وشی، شکریې پرځای کړه ترڅودنعمت ډیروالی ته ورسیږی، ځان خدای ته وسپاره، اونه دځان اونه هم دنوروپه هکله دده پروړاندې اعتراض مکوه. قوم دخدای دارادې په وجود له ځانه هیڅ اراده نلری، د خپلې مقسومې روزی په طلب کې له ځانه حرص اوآز نه کوی، اوسترګې یې دنورو مالوته نه دی کړی. که داولیاءالله دقوم دناستې طالب یې، په ګفتاراورفتارکې له دوی څخه متابعت وکړه، ولې تا ددی خلاف وینم. دحق دامرسره مخالفت ستا دورځې اوشپې عادت ګرزیدلی، تاته وایې عمل وکړه ولې ته دعمل اهل نه یې، (الیاذوبالله)داسې چې ګویا هغه بنده دی اوته معبود!!

پاک اوسپیڅلی دی خدای ، څومره لوی باحلم اوبا طاقت دی، که دخدای حلم نه وای نو حالت به بل ډول وای. که دزغورنې غوښتونکی یې، باید په ظاهراوباطن کې دهغه پروړاندې ساکته اوسې. اوامریې ترسره کړه اوله منهیاتوډډه وکړه، ترڅوددنیا اوآخرت خیراوسعادت ته ورسیږی. له خلکوڅخه مه غواړه، ځکه دوی ناتوانه دی اوفقیر، نه دځان اونه هم دنورولپاره په ګټه اوزیان قادره ندی. دخدای پروړاندې صابره اوسه، بیړه اوبخل مه لره، اوپرده دکړوپرترسره کولونیوکه مه کوه، ځکه خدای پربنده ګانویې تردوی ډیرمهربانه دی.

له تانه دی هغه څه چی پرتادی، یوه له بزرګانوپه دی هکله ویلی: (هرڅه چی پرمادی له مادی)-(وویل چی له چاګیله وکړوچی زمونږدی چی پرمونږدی). پرتاسولازمه ده چی په ټولوحالاتوکی دخدای دمقدراتوسره همغږی اوموافق اوسی، هغه پرتاسو له تاسوډیرخبردی، هرڅه چی ستاسو په هکله ترسره کړی ستاسوپه صلاح اوګڼه دی،خپله یی فرمایلی: (وَعَسی اَنْ تُکْرَهُواشَیْئاً وَهُوَ خَیْرٌلَکُمْ، وَعَسی اَنْ تُحِبُّوا شَیْئاً وَ هُوَشَرٌّ لَکُمْ،وَاللهُ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ»-()-«ډیرشیان نه خوښوی چی هغوی ستاسوپه ګټه دی، اوډیرشیان خوښوی ولی هغوی ستاسوپه زیان دی.سوره بقره آیه ۲۱۶». اوفرمایلی یی دی:( وَیَخْلُقُ مَالاتَعْلَمُونَ)-«داسی شیان پیداکوی چی تاسو نه پوهیږی». او(وَمَا اُوتِیتُمْ مِنَ الْعِلْمِ اِلاقَلِیْلاً)-«تاسوته پرته له لږتوکی پوهی څخه نه دی درکړل شوی. سوره نحل آیه ۸».

هرڅوک چی دحق دلاری طالب وی، باید لومړی نفس تهذیب کړی،ځکه نفس تل په بدیوامرکوی. ته دحق په لاره کی دکوم کارپه کولو قادره یی، پداسی حال کی چی تل دنفس داطاعت په لاره کی ګامونه اخلی؟ له نفس سره مبارزه وکړه، ترڅوداطمینان مرحلی ته ورسیږی، اوهرکله چی په مطمئنه نفس بدل شو، نوبیا یی دحق په درګاه په سرمقیم وګرزوه، اوپه ریاضت اوحسن ادب سره وګوماره، ترڅودالهی وعداووعید سره آشنا شی، ځکه هغه ړوند،کوڼ اوګنګی دی، خدای نه پیژنی، ولی دمجاهدت په پایله کی یی سترګی خلاصیږی،غوږونه پرانیستل کیږی اوژبه یی په وینا راځی، عداوت اودشمنی اوجهل تری لیری کیږی، اودالمردزیار اوتلاش غوښتونکی ،ساعت په ساعت اوورځ په ورځ اوکال په کال دپاینښت اودوام مستلزم دی. ځکه دغه مجاهدت په ورځ اودوو پای ته نه رسیږی. هغه-نفس- دلوږی په قمچینه ووهه، اودلذایذوڅخه محروم وساته، دغه فشارونه پری تحمیل کړه، اوله تیغه اوتوری یی مه ویریږه، پوه شه چی توره یی دلرګی ده ، نه دوسپنی، دهغه ویناپرته له عمله ده، پرته له صدقه درواغ، بی وفاعهد، دوستی نه پیژنی، داسی حمله کوونکی دی چی پایلی نشی ترلاسه کولای،شیطان چی یی امیراورئیس دی دمومن پروړاندی کوم ځواک نلری، اوپه دبنمنی قادره ندی، پس ددی حال باید څرنګه وی؟ ګمان مکوه چی شیطان په خپل قدرت سره جنت ته ننوت اودآدم داغوا سبب وګرزید، بلکه عزّوجلّ خدای هغه وسیله وګرزاوه.

ای کم عقله، دالهی آزمایښت په وجه دحق له درګاه تیښته مکوه، خدای ستاپرمصلحت ښه پوهیږی. پوه شه چی تاترآزمایښت لاندی نه نیسی، مګرستادصلاح اوګټی لپاره، هرکله که ترآزمایښت اوامتحان لاندی راغلی، ثابت اوپایدار اوسه، اوله ګناهونو توبه وباسه، استغفار زیاد کړه، اوله خدایه وغواړه چی صبر اوثبات درپه برخه کړی. پروړاندی یی په خلوص سره حاضرشه، اولاسونه دی دهغه دلطف اورحمت په لمنه ټینګ کړه، اوله ده وغواړه ترڅودبلادرفع ترڅنګ یی درته مصلحت هم څرګندکړی.

که درستګاری طالب یی، لازمه ده چی په الهی احکاموعالم شیخ سره مصاحبت ولری، ترڅودرته علم زده کړی اوستا په ادب اوتربیت کی زیاروباسی، اوتادخدای لاری ته هدایت کړی. مرید ته قائد اوپیشوا ضروردی، ځکه له مارانو،لړومانو اونوروچیچونکواوځیرونکوڅخه په ډکه دښتنه کی قرارلری. باید یوڅوک وی چی هغه له دی مهلکاتوڅخه وژغوری، اویوی چینی اویادونی یوی سیوری ته یی راهنمایی کړی، په غیرصورت کی په دی بیابان کی به مارانواولړمانوښکاروګرزی. ای ددنیا دلاری مسافرو، له قافلی اودلاری له ستونزو مه غافلیږی، که نه ځان اومال به له لاسه ورکړی. اوته ای دآخرت مسافره،باید تل دلاری ددلیل ملازم اوسی، ترڅودی دمقصود سرمنزل ته ورسوی، دده خادم اوسه اوپه حسن ادب ورسره چلند وکړه، له فرامینویی سرغړونه مکوه ترڅودقرب مقام ته دی ورسوی، هرکله که ستا صدق اودرستی ورته ښکاره شوه، نوامیراوځای ناستی به دی وګرزوی، اودنبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) حضورته به دی ورسوی،چی ددی تشریف په برکت به دخدای اومخلوق ترمنځ سفیر وګرزی،

اودپیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) دغلامی افتخاربه درپه برخه شی، اودا داسی څه نه دی چی په هیلواوتمنی لاس ته درشی، بلکه صدق اوعمل اواخلاص ورسره لازمی دی.

د(اولیاءالله) قوم په زړګونوخلک دنفس سره مبارزی ته رابولی، ولی یوتن دخدای کلام درک کوی اوپه زړه یی اوری اوهغه تصدیق کوی. اوپوه شه چی دخدای کلام عبارت دی په هغی په بشپړه عمل کول په ټولو غړو اوجوارحوسره.

ای نادانانو، له ګناهونو څخه توبه وباسی، اودصدیقینو لاری ته راوګرزی، اوله ګفتاراورفتاره یی پیروی وکړی. دمنافقینو اودنیا دوستانو اودآخرت څخه دلیری شویوله لاری څخه متابعت مکوی. دوی دحق لاره چی پخوانی پری روان و، ترک کړی ده. ښی خوا، کینه خوا اووړاندی وروسته ښه ځیرشه، دټینګ ګامولاره اوطریقه ومومه، اوپوه شه هیڅوک چی دحق له جادی اومستقیم صراط څخه نه منحرف کیږی، که پدی لاره اوطریقه ولاړشی.

(ای دخدای بنده) هغوی چی نن ددنیالپاره درسره معاشرت کوی، سبابه یوهم ونه ګوری، اوستاسوترمنځ به اړیکی پری شی، څرنګه به ستاسو اوستاسودناوړه او نابابه دوستانوترمنځ چی ددنیالپاره اودخدای دامرخلاف درسره اړیکه لری ، پری نشی؟ که ناچاره وی چی له خلکو سره معاشرت وکړی، له وارعانواوزاهدانو، عارفانواودحق په لاره ولاړوعاملومریدانو سره دوستی اومعاشرت وکړه، له هغه چا سره دوستی وکړه چی تاله خلق نه خالق ته ورسوی، له ګمراهی دی ژغوری، اوپه مستقیمه لاره دی هدایت کوی. له دنیا څخه دحرص سترګی لیری کړه،اودآخرت په نعیم پوری یی وتړه.ددنیا طبق له لاسه کوزکړه اودآخرت طبق یی پرځای واخله.

هغه څوک پردوستی ونیسه چی تا دمارانو،لړمانواوخیرونکو له ځایه امن اوراحت ځای ته یوسی. هرڅوک چی ددی صفاتودرلودونکی و، دهغی سره همناستی اوسه اووپناته یی غوږشه، اوله هغه څه چی منع کوی، ډډه وکړه، ترڅو ددنیا اوآخرت خیرترسره کړی.

دحوادثوپروړاندی صبرترټولوغوره شجاعت دی. په عمل کی زیاروباسه،اودعمل دباب ساکن اوسه،چی هرچاته به دهغه دعلم په اندازه اجرورکړل شی. خان دتوکل په دریاب کی واچوه، اوسبب اومسبب په نظرکی مه نیسه، دښوونکی پروړاندی په ادب اوسه، لږوواپه اوډیرچپ اوسه او واوره، چی دا دزده کړی سبب ګرزی،اومعلم ته حسن ظن ولره.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار»،آمین.**